Pashto Version

# د دفاع وزارت – د افغانانو د انتقال او بیامیشتېدنې برنامه

## د واجدوالي د شرایطو د لغو کېدلو پالیسي (لا تر اوسه UK ته ندي انتقال شوي)

| نسخه | تازه معلومات | فصل | تېټه |
|---|---|---|---|
| 1.0 | | | **15.07.2026** |

### سریزه

1. د دې پالیسۍ د لارښود موخه داده چې هغه حدود او معیارې بهیر وټاکي چې له مخه يې د ستري برتانیې او شمالي آیرلند د متحدې پاچاهۍ (UK) د دفاع وزارت کولای شي، په ځینو مواردو کې د نورو دولتي ادارو په ملاتړ سره، د هغو کسانو د واجدوالي د شرایطو د لغوه کولو پرېکړه وکړي، چې لا تر اوسه UK ته ندي انتقال کړای شوي. دا لارښود پر هغو کسانو پلی کېږي چې د افغانانو د انتقال او مرستې پالیسۍ (ARAP) او/ یا د افغانستان لپاره د غبرګون د مسیر (ARR) له مخې د شرایطو واجد بلل شوي وي. دا لارښود د واجدوالي د شرایطو د لغوکولو بهیر تشریح کوي او هغو موجودو پالیسیو ته اشاره کوي چې باید له دې لارښود سره یوځای ولوستلې شي.

2. د انتقالېدو د مسیر د پېچلي ماهیت له کبله، هغه مسئلې چې شاید د افرادو د واجدوالي پر شرایطو اغېز وکړي، تل له هماغه پیل څخه نه شي معلومېدای. د بېلګې په توګه، سره له دې چې **اصلي غوښتنلیک ورکوونکي (PAs)** تر انتقالېدو مخکې د ځان او د خپلو کورنیو د غړیو په استازیتوب اړین سندونه وړاندې کوي، په اسنادو کې توپیرونه، مغایرتونه او ناسمتیاوې شاید تر هغه وخته څرګندې نشي، چې یاد کسان په یوهٔ درېیمګړي هېواد کې په حضوري ډول د قضیو د ارزونې کارکوونکو په وړاندې حاضر نه شي. دغه لارښود هغه ګامونه هم تشریح کوي چې باید په دې ډول مواردو کې واخیستل شي.

3. کېدای شي داسې قضیې رامینځته شي چې د واجدوالي د شرایطو وړاندوینه يې پدې لارښود کې نه وي شوې. د UK د دفاع وزارت دا حق له ځانه سره مصئون ساتي، چې د موجه دلیل په صورت کې، د هغو کسانو د واجدوالي شرایط لغو کړي چې لا تر اوسه UK ته ندي انتقال کړای شوي. هغه استثنايي قضیې چې د دې لارښود له چوکاټ څخه بهر وي، هره یوه به په جلا توګه وڅېړله شي او پرېکړه به پرې وشي.

### د واجدوالي د شرایطو د لغو کولو واک او تفویض شوی صلاحیت

4. د افغانانو د انتقال او مرستې پالیسۍ ARAP او د افغانستان لپاره د غبرګون د مسیر ARR له مخې د واجدوالي د شرایطو د لغوه کولو صلاحیت د دفاعي چارو د وزیر او د دفاع له وزیر سره دی، چې د افغانانو د انتقال مسئولیت پر غاړه لري (اوسمهال، دغه مسئولیت د دفاعي چمتووالي او صنعت له وزیر (MinDRI) سره دی).

5. پخوا به هرکله چې اړین ګڼل کېدل، د قضیو د ارزونې کارکوونکو به د دفاعي چمتووالي او صنعت وزیر Min(DRI) ته، چې (تر دې وړاندې د وسله والو ځواکونو وزیر و)، وړاندیز کولو، چې د واجدوالي د شرایطو لغوکول تصویب

کړي. د ۲۰۲۶ کال د اپرېل د میاشتې پر ۱۳ نېټه، د دفاعي چمتووالي او صنعت وزیر (Min(DRI موافقه وکړه چې دغه صلاحیتونه د لوړ پوړو ملکي خدمتونو یوهٔ غړي (SCS) ته وروسپاري.

6. له همدې امله، د ۲۰۲۶ کال د جولای د میاشتې تر ۱۵ نېټې وروسته، قضیو ته د رسېدنې کارکوونکې باید خپله ارزونه او وړاندیز د لوړپوړو ملکي خدمتونو یوهٔ غړي SCS ته وړاندې کړي، تر څو هغه پرېکړه وکړي چې د واجدوالي شرایط دې لغو کړای شي او که نه. پېچلې قضیې، هر کله چې اړینه وبلل شي، لا هم وزیرانو ته راجع کېدای شي.

**د واجدوالي د شرایطو لغو کول**

7. دا پالیسي باید د ARAP او ARR له نورو پالیسیو او د قضیو د ارزونو د لارښود سره یوځای ولوستله شي. په دې کې د دفاع وزارت د افغانانو د انتقال او بیامېشتېدنې ریاست DARR د **درغلۍ او ډاډمنتیا پالیسي** هم شامله ده.

8. د دفاع وزارت کولای شي د یوهٔ اصلي غوښتنلیک ورکوونکي PA د واجدوالي شرایط په لاندې مواردو کې لغو کړي:

   a. د واقعیت خلاف معلومات او / یا شواهد یې
      i. د خپل واجدوالي د شرایطو په اړه وړاندې کړي وي او/ یا
      ii. د خپلې کورنۍ د غړو د واجدوالي د شرایطو په اړه یې وړاندې کړي وي
   b. د واقعیت خلاف څرګندونې یې
      i. د خپل واجدوالي د شرایطو په اړه وړاندې کړي وي او/ یا
      ii. د خپلې کورنۍ د غړو د واجدوالي د شرایطو په اړه وړاندې کړي وي
   c. اړوند معلومات او/ یا شواهد یې
      i. د خپل واجدوالي د شرایطو په اړه نه افشا کوي
      ii. د خپلې کورنۍ د غړو د واجدوالي د شرایطو په اړه نه افشا کوي

   په داسې حال کې چې د دغو معلوماتو یا شواهدو افشا کېدل به د دې لامل ګرځېدلي وای چې غوښتنلیک ورکوونکی او / یا د کورنۍ غړي یې د ARAP د پالیسۍ او یا ARR له مخې د شرایطو واجد نه وای ګرځېدلي.
   d. نور نو نه غواړي چې UK ته انتقال کړای شي (د هغو مواردو په ګډون چې یوهٔ کس مخکې دا خبره په څرګنده توګه بیان کړې وي).
   e. د واجدوالي د شرایطو د تایید لیک د لېږلو له نېټې څخه تر ۱۲ میاشتو زیاته موده کې یې اړیکو او پیغامونو ته ځواب نه وي ورکړئ.

9. د دفاع وزارت کولای شي د یوهٔ اصلي غوښتنلیک ورکوونکي PA د واجدوالي شرایط په لاندې مواردو کې لغو کړي:

   a. کله چې اصلي غوښتنلیک ورکوونکی PA
      i. د خپلې کورنۍ د غړو د واجدوالي د شرایطو په هکله د واقعیت خلاف معلومات او / یا شواهد وړاندې کړي.
      ii. د خپلې کورنۍ د غړو د واجدوالي د شرایطو په اړه د واقعیت خلاف څرګندونې وکړي.

iii. د خپلې کورنۍ د غړو د واجدوالي د شرایطو په اړه اړوند معلومات او یا شواهد نه افشا کوي، په داسې حال کې چې د دغو معلوماتو یا شواهدو افشا کېدل به د دې لامل ګرځېدلي وای چې د غوښتنلیک ورکوونکي د کورنۍ غړي به د ARAP د پالیسۍ او یا ARR له مخې د شرایطو واجد نه وای پېژندل شوي.

iv. نور نو نه غواړي چې UK ته انتقال کړای شي.

v. د واجدوالي د شرایطو د تاییدلیک د لېږلو له نېټې څخه تر ۱۲ میاشتو زیاته موده کې یې اړیکو او پیغامونو ته ځواب نه وي ورکړی.

b. په هغو مواردو کې چې د کورنۍ غړی

1. نور نو نه غواړي چې UK ته انتقال کړای شي

## وفات شوي اصلي غوښتنلیک ورکوونکي

10. کله چې غوښتنلیکونه د داسې یوۀ چا لخوا وړاندې کېږي چې ادعا کوي د وفات شوي اصلي غوښتنلیک ورکوونکي PA د کورنۍ غړی دی، د هغه د واجدوالي شرایط کېدای شي لغو کړای شي که چیرې:

a. اصلي غوښتنلیک ورکوونکی وفات شوی نه وي، څرنګه چې یې ادعا شوې.

b. د غم ځپلې کورنۍ مدعي غړی

i. د واقعیت خلاف معلومات او / یا شواهد د خپل واجدوالي د شرایطو په اړه وړاندې کوي.

ii. د واقعیت خلاف څرګندونې د خپل واجدوالي د شرایطو په اړه وړاندې کوي.

iii. اړوند معلومات او/ یا شواهد د خپل واجدوالي د شرایطو په اړه نه فشا کوي، په داسې حال کې چې د دغو معلوماتو یا شواهدو افشا کېدل به د دې لامل ګرځېدلي وای چې غوښتنلیک ورکوونکی او / یا د کورنۍ غړي یې د ARAP د پالیسۍ او یا ARR له مخې د شرایطو واجد نه وای ګرځېدلي.

## د واقعیت خلاف معلومات یا د اړوندو معلوماتو د افشاکولو څخه ډډه کول

11. د ادعا شوي خپلوۍ یا قرابت د ثابتولو لپاره د پوره شواهدو برابرول د اصلي غوښتنلیک ورکوونکي PA او د هغه د کورنۍ د غړو مسئولیت دی (څرنګه چې قضیو ته د رسېدنې د کارکوونکو د ARAP/ARR په لارښود کې راغلي).

12. کله چې داسې شواهد وموندل شي او د دې څرګندوینه کوي چې اصلي غوښتنلیک ورکوونکی PA - او یا یې د کورنۍ غړي، په داسې حال کې چې اصلي غوښتنلیک ورکوونکی وفات شوی وي، د خپل واجدوالي د شرایطو لپاره یې د واقعیت خلاف معلومات یا شواهد وړاندې کړي وي، او یا یې د خپلې کورنۍ د غړو د واجدوالي د شرایطو په اړه اړوند معلومات او یا شواهد نه وي افشا کړي، دا مناسبه ګڼل کېږي چې د دوی او یا یې د کورنۍ د غړو د واجدوالي د شرایطو لغو کېدل تر غور لاندې ونیول شي. د دې بېلګې کېدای شي، خو محدودې ندي په، جعلي او متقلبانه سندونو (لکه پاسپورټونه، د زېږېدنې تصدیق نامې، نکاح خطونه، تذکرې، د استخدامېدو اړوند تصدیق نامې او د هویت منل شوي سندونه) او یا واقعي/اصلي اسناد چې له ناسمو او ناجایزو لارو تر لاسه شوي وي او یا لاس پکې وهل شوی وي (مشکوک جعلکاري شوي نومونه او د زېږېدنې نېټې). د لا نورو معلوماتو لپاره د DARR د درغلۍ او ډاډمنتیا پالیسۍ ته په GOV.UK وېبپاڼې کې مراجعه وکړئ.

## د توضیحاتو او دلایلو د وړاندې کولو حق

13. اصلي غوښتنلیک ورکوونکو PAs ته، او که اصلي غوښتنلیک ورکوونکی وفات شوی وي، د هغوی د کورنۍ غړو ته باید دا فرصت ورکړل شي چې د خپل واجدوالي د شرایطو د لغوه کېدلو د وړاندیز شوي پرېکړې په تړاو نور معلومات او یا وضاحتونه وړاندې کړي او یا خپل دلایل او څرګندونې مطرح کړي. هر ډول ترلاسه شوي اړوند معلومات چې وړاندې کېږي، باید د واجدوالي د شرایطو د لغوه کېدلو او یا نه لغو کېدلو په اړه د وروستۍ پرېکړې تر کولو مخکې په پام کې ونیول شي.

14. په دې ډول مواردو کې، د قضیو کارکوونکي مخکې تر دې چې قضیه خپلو ټیم مشرانو ته راجع کړي، باید د **نورو معلوماتو غوښتنه** وکړي. اړوند کسان به ۱۴ ورځې وخت ولري چې د معلوماتو غوښتنې ته ځواب ووايي. که چېرې د معلوماتو غوښتنې ته په دې موده کې ځواب ور نه کړل شي، پرته له دې چې استثنايي حالات شتون ولري، د قضیو کارکوونکي به د موجودو شواهدو پر بنسټ قضیه د پرېکړې کولو لپاره لوړپوړو ملکي خدمتونو SCS ته راجع کړي.

## د سوابقو درج او ثبتول

15. د واجدوالي د شرایطو لغو کېدل ښايي د اصلي غوښتنلیک ورکوونکي PA او/ یا د هغه د کورنۍ د غړو لپاره د پام وړ پايلې ولري. که څه هم دا موضوع ښايي تل د واجدوالي د شرایطو پر پرېکړه اغېز و نه لري، د قضیو مسئولین باید ډاډ ترلاسه کړي چې د اصلي غوښتنلیک ورکوونکي PA او د هغهٔ د کورنۍ د غړو د واجدوالي د شرایطو د لغو کېدلو او ورسره تړلې ټول احتمالي ګواښونه په مناسب ډول **د دفاع وزارت د افغانستان د قضیو د ارزونې په سیستم (DACS)** کې درج او ثبت کړای شي او نورو ښکېلو خواوو ته خبر ورکړل شي.

16. د قضیې هر اړخیز او دقیق یادښتونه باید په هر پړاو کې حفظ کړای شي او تازه وساتل شي، تر څو هغه موارد په بشپړ او روښانه توګه درج او ثبت شوي وي، چې پرېکړه یې پر بنسټ شوې ده.

17. د دفاع وزارت د واجدوالي د شرایطو د لغو کولو د خبرتیا د صادرولو مسئولیت لري، او د کورنیو چارو وزارت هېواد ته د ننوتلو یا ورودي مجوز د ردولو او یا لغوه کولو د خبرتیا د صادرولو مسئول دی. کله چې یوهٔ کس ته د واجدوالي د شرایطو د لغو کولو پرېکړه ابلاغېږي، د قضیو مسئولین باید د پرېکړې دلیلونه په روښانه ډول بیان کړي.

## د شرایطو د واجدوالي د پرېکړې پر وړاندې استیناف غوښتنه

18. د شرایطو د واجدوالي پرېکړه د استیناف وړ نده، او افراد حق نلري چې د دفاع وزارت څخه د دې پرېکړې د بیاکتنې غوښتنه وکړي.